# د استغفار ویيلو سرداره دعا

له شداد بن اوس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د استغفار ویيلو سرداره دعا اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ» (يا الله! ته زما رب يې، نشته د عبادت وړ په حق سره پرته له تا څخه، تا زه پيدا کړی يم او زه ستا بنده يم، او زه ستا پر لوظ او ژمنه له خپل توان سره سم ولاړ يم، پناه غواړم پر تا له هغه شر نه چې ما تر سره کړی، اقرار کوم تا ته ستا په هغو نعمتونو چې تا ما ته راکړي او پر خپلو ګناهونو هم اقرار کوم، نو ماته بخښنه وکړه، ځکه چې له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ، فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ». «او چا چې دا دعا له يقين سره د سهار له خوا وويله، او له شپې وړاندې په همدې ورځ مړ شو، نو هغه جنتي دی، او چا چې دا دعا په يقين سره د شپې له خوا وويله، او له سهار نه مخکې مړ شو، نو هغه جنتي دی.»

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د استغفار لپاره کلمې دي او په هغو کې تر ټولو غوره او لويه د بنده لپاره دا ده چې ووايي: "اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت خلقتني وأنا عبدك وأنا على عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ ما اسْتَطَعْتُ أعوذ بك من شر ما صنعتُ أَبُوءُ لك بنعمتك عليَّ وأَبُوءُ لك بذنبي فَاغْفرْ لي فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت" نو بنده لومړی د الله جل جلاله په يووالي اقرار کوي او دا چې الله جل جلاله يې پيدا کوونکی او معبود دی، شريک نه لري او دا چې دی د الله سره په خپلو ژمنو د توان تر کچې ولاړ دی؛ ځکه بنده که څومره عبادت هم وکړي بيا هم نشي په عبادت کې د الله تعالی ټول اوامر پر ځای کړي او نه شي کولی د الله د هغو نعمتونو پوره شکر ادا کړي چې شکر ويستل يې پرې واجب دي، نو بايد چې الله تعالی ته رجوع وکړي او هغه ته پناه يوسي، ځکه الله هغه ذات دی د بنده له شر څخه ورته پناه ورل کيږي. او دی هغه ته په خپله خوښه د هغه په نعمتونو اقرار کوي او په خپلې ګناه او سرغړونو اقرار کوي. الله جل جلاله ته لدې ننواتو وروسته له خپل رب څخه دا دعا غواړي چې د ګناهونو په پټولو سره ورته بښنه وکړي او په خپلې بخښنې، فضل او رحمت سره يې د ګناه له بديو وژغوري ځکه چې له هغه لوی ښتن پرته بل څوک ګناهونه نه بخښي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې دا دعا د سبا او بيګا له اذکارو څخه يوه ده، نو څوک يې چې په يقين سره ووايي، له ايمان سره يې معنا په زړه کې راولي او د ورځې په پيل کې يې د لمر راختلو او زوال تر منځه ووايی، چې دا د ورځې وخت دی، بيا مړ شي نو دی به جنت ته داخل شي. او چا چې بيګا مهال وويله، يعنې د لمر له ډوبېدو څخه تر سهار راختلو پورې او بيا له سبا کېدو مخکې مړ شو، نو جنت ته داخل شو.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee